مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۶/۲۸

# لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

## ۳۸۷مه برخه

د لنډیو د دې برخې لهپاره دا لاندې لنډۍ راټولې شوې دي:

لکه د مچ منګولې مرورم
ببرته راتلای نهشي آتېر زاړه وختونه

ته پر ماتشوېبنګړي ژاړې
زه په ماتشوي زړګي کړسخنداکومه

د جانان غم، ماپسې سیورۍ
چې چېرې ځم، تر ما نه مخکې وروستهځینه

ما ته مې قبر راجوړشوی
لالې دویم واده کوي، ماخبنوینه

د لنډیو د دې برخې لهپاره دا لاندې لنډۍ راټولې شوې دي:

ته به په کوم مالت کې ګرځې
زه دې خالي تصویر ته شپې سباکومه

ته پر ماتشوېبنګړي ژاړې
زه په ماتشوي زړګي کړسخنداکومه

تکل به کله د راتلو کړې
زه دې په لار کې څوکېداره ناستهیمه

تا ما ته څهوې، زما هېرشول
په کومه بلهبانه بیا راشه میئنه

بېسجدې لمونځ درپسې وشه
په ما دې رنګې مېنې سروګرځاونه



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولۍ

پرلالي سختيورځي راغلي
خپل سکهورونه ترينه لارې بېلوينه

پخوا دې غم راسره نه و
اوس دې پر هرهکيسه غلې وژاړمه

پر زړه مې غټهتيږه کېښوه
د تا يادونه به بيا جګ نهکړي سرونه

په کور کې ستا خبرې کېږي
ځان مې ګونګړی دی، کوټه جاروکومه

په خپل وطن سړی مختار وي
چې مسافر شي بيا پر مځکه خوبکوينه

د دلهګانو په احتيار يم
کيسې به اورم، سربه ښکته ګرځومه

د ورکو سترګو ديدن راوړه
که روغه نهشوم، بيا مې مهکوه پوښتنه

د لارې سر کې ورته ناستيم
زما د زړه تاوان دې راکړي، بيا دې ځينه

د جانان غم، ماپسې سيوری
چې چېرې ځم، تر ما نه مخکې وروستهځينه

د ديدنونو لمر ډوبېږي
د بيلتانه ماښام ته غيږه ورکومه

د ډېرو ياره خوښ مې نهشوې
لکه رباب دې هرسړی په غيږ کې ږدينه

د مشر قدر درته نهو
ځکه دې خړسيلاوو پر کور دروخاتنه

حيا د پوزې سر ته راغله
جنکۍ پوزې پټوي، سترګې پرېږدينه

خلکو قيامت نه دی، نو څه دی
جلۍ يوه، ياران يې درې نيوليدينه

څه مې له وسه پوره نهدي
له ډکوسترګو به دې سترګې واړومه

ځنګه مې نهمنل چې ځې‌به
ځنګه خاليميدان کې پاتيشوم مېنه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

چناره اورواخلې له ځانه
مين پرما دی، خوب ترتا لاندې کوينه

لکه د مچ منګولې مرورم
بېرته راتلای نهشي آتېر زاړه وختونه

که بې‌ننګي دې کړې نهوای
اوس به زه ستاسو په کور کې ګرده تاويدمه

کرار ـ کرار رانه هېرېږي
اخر به خلاص ستا له جفا او غرور شمه

که بېله تا مې وخت تېرېږي
د مځکې سر دې راته سره سکروټه شينه

کابله سا دې بنده مهشه
ورځ به راځي چې د نوروزجشن کوونه

مينهکوه، مينه ثواب دی
ملا ظالم دی، عقيدې خرابوينه

مدام د غمباران وريږي
د خوشحالۍ شېبه په کال کې نهراځينه

ما ته مې قبر راجوړشوی
لالی دويم واده کوي، ماخښنوينه

رنګ مې کرار ـ کرار بدليږي
د ببلتانه اثر دې ځان ښکاره کوينه

زما به زړه شي درنه صبر
بيا به وګورو چې پر چا کوې ظلمونه

زما به هيڅکله هير نهشي
جانانه ستا لړېوعدې، ډېرقسمونه

زړه به مې ولې نهژړېږي
په ما شرمېږي، وايي نهدې پېژنمه

زما ارمان وتلی نهدی
لاسونه جګ کړه، غيږه بيا راکه مئنه

زما ارمان و، ته رانغلې
اوس مې سا خيژي، خو تا ځانته نهپرېږدمه

سوال دې په کوم زيارت قبول شو
کې راته وېښيې، سرتوره به ورځمه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**شونډې مې تاپسې وتلي**
**خلکو ته وایم چې پېریان مې ډاروینه**

**ورسئ پوښتنه ورنه وکئ**
**چې زما نوم ورله ورځي، که هیر یې یمه**

**اوربل دې ما په نامه سپېن کړ**
**په پستې غیږې کې دې نور کوي خوبونه**

نوربیا

د لیکوال نورې لیکنې په لاندې لینک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ